مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر ش میره کی

۲۰۲۶/۰۳/۱۷

# د روژې لهپاره څو طبي لارښونې

زما ښایسته دوستانو ! سلام ،
روژه میاشت یوه مبارکه ، د اخلاص ،صداقت ، پاکي ، اخلاق ، اخوت ، صداقت
او خلص انسان ته ښه او بد ژوند زده کول دي ، نو په دي توګه تاسو ګرانو دوستانو ته دی روژې مبارکي میاشتي پهباره کي طبي معلومات در کوم, پاک الله وکوي څه خوښ مو شي .

دي روژې مبارکي میاشت په باره کي څو طبي لارښونې :

نن غواړم د طبابت له اړخه هغه دوستان او یا هیوادوالوته څه په مختلفو ناروغي اخته دي او په څنګ کي درملا خلي ، یو څه معلومات وړاندي کوم.
١ :په پاک اسلام دین کي هر هغه څوک څه صعب العلاج ناروغ وی او یا یي بی له درمل یي ژوند په خطر کي وي ،کولی شی څه روژه ونه نیسئ .

٢ :دي شکري ناروغان هغه څوک څه انسولین اخلی باید په روژه نیولو کي احتیاط وکړی ، او که تابلیت اخلی بای ددې ډاکټر په مشوره ورته کوم نوعه تابلیت ورکړی او بیاهم دې معالج ډاکټر نظر یي مهم رول لری.

٣ : هغه څوک څه لوړ فشار لری باید کوم وخت درمل واخلی ، باید خپل ډاکټر سره مشوره وکوی ، او دی هغه ډا کټرمشوره مهم رول لری.

۴ : هغه څوک څه دي تایرویئد غدي جګ او یا ټیټ کارکول لری ، باید نیم ساعت مخکي له خوړلو څخه خپل درم لواخلی ، نو په دي توګه دغو خلکو ته هم روژه مشکل ده.

۵ : هغه ناروغان څه رواني او عصبي ناروغي لري باید دی خپل معالج ډاکټر په مشوره درمل واخلی او هغه مشو رهورکړی څه روژه ونیسی او یا نه .

۶:هغه ناروغان څه دی معدي زخم او یا ډیر پرمختللی ګزګ ) التهاب ( ولری بیا هم دی خپل معالج ډاکټر پهمشو ره کار وکړی , څه روژه ونیسی او یا نه .

٧ : هغه څوک څه په مخدره موادو اخته وی ، هغه هم باید معالج ډاکټر یي هدایت ورکړی.

٨ : هغه ښځي څه په روژه کي میاشتني عادت ورته پیدا کیږي روژه یي نه کیږی.

٩ : هغه انسانان څه فکري او یا رواني له خوا د ښه او بد توپیر نه شی کولی روژه په هغه نه کیږی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

۱۰ :هغه سپین ږیري څه خپله ادراک یې له لاسه ورکړی په هغو هم روژه نه کیږی.

۱۱ :هغه ښځې څه نوی اولاد یې زیږیدلی وی او خپل کوچنی ماشوم ته شیدې ورکوی په هغې هم روژه نه کیږي.

۱۲ :هغه ښځې څه میاشتني عادت ولری په هغه هم روژه نه کیږي .

۱۳ :هغه خلک څه ناروغ دی او په ورځ کې څو وارې درمل اخلی نو په دې لحاظ په روژه کې په دوه وارې درمل یوځای اخستل هم خطر لری ، باید دا خلک دې خپل معالج ډاکټر په مشوره درمل واخلی او یا روژه ونیسی او یا نه.

۱۴ : هغه ناروغان څه تنفسي جهاز ناروغي او کومه بله ستونزه ولری لکه سالنډی ، څه هرلحظ سپرې اخلی هغه هم کولی شی څه روژه و نیسی او یا نه ، ځکه په اسپری روژه نه ماتیږی.

۱۵ : هغه ناروغان څه دې پینتورګو) بډوډو (ناروغي لری بالخصوص دې بډوډو نه فعالیت یعنې دیالایز څه کوی ، پههغو هم روژه نه کیږی .

۱۶ : هغه خوک څه دې جلد لاندې او یا ورید کې پیچکاری کوی هغه هم د کوم ناروغی لپاره روژه یې نه خرابیږی ،یواځې په سیروم او تقویه تیې شیانو یې روژه ماتیږي.

یادونه : له ټولوګرانو دوستانو څخه هیله کوم که واقعا په دا پورته ناروغیو او یا ستونزو اخته یاستې بیا هم خپلمعالج ډاکټر سره مشوره وکړی او یا دی خپل معالج ډاکټر په مشوره کار وکړي ، نو په دې توګه له ټولو دوستانو څخه دا هیله کوم څه بیا هم خپل روغتیا ته مو پام نیسي . څه خدای مکرږه څه د ثواب پر ځای نور په عذاب شي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزی بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ